# فیصله نامه کمیسیون مستقل انتخابات

**شمېره:** ۱۹ – ۱۳۹۳

**موضوع:**
۱. نوماندانو ته د پایلو فورمو د توزیع؛
۲. د رأیې له هغو ښځینه محلونو څخه چې د ښځینه کارکوونکیو استخدام په کې ناشونی وي، د څارنې ؛او
۳. د پایلې د جمع کولو په ملي مرکز کې د مدیریت کمیټې د رامنځته کولو څرنګوالی.

**تطبیقوونکې څانګه:** د ټاکنو خپلواک کمیسیون دارالانشاء

**تاریخ ومحل جلسه:** د ۱۳۹۳ کال د غبرګولې ۲۰ مه / د ۲۰۱۴ کال د جون ۱۰ مه، د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر.

**اعضای حاضر:** ښاغلی ډاکټر احمد یوسف نورستاني، ښاغلی عبدالرحمن هوتکي، ښاغلي سرير احمد برمک، ښاغلي پوهاند محمد حسین ګرزیوانی، ښاغلی محمد عزیز بختیاری، ښاغلی قاضی سلیمان حامد، آغلې لیلا احراری و آغلې شریفه زرمتی وردک.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون د تشکیلاتو، دندو او صلاحیتونو قانون د ۱۳ مې مادې پر اساس پرېکړه وکړه چې:

**۱.** په تېرو ټاکنو کې د پایلې د فورمې یوه کاپي د پېچې اچونې پر اساس د نوماندانو یوه څارونکي ته ورکول کېده او بله به یې د رأیې ورکونې په محل کې ځوړندیده. خو د ولسمشریزو ټاکنو په دویم پړاو کې د پایلو فورمې دواړه کاپي ګانې د رأیې شمېرنې په محلونو کې د دواړو نوماندانو استازیو ته ورکول کیږي.

**۲.** د رأیو په هغو محلونو کې چې د بېلابېلو دلیلونو پر اساس کمیسیون د ښځینه کارکوونکي پر استخدام نه وي بریالی شوی او د هغوی پر ځای د سیمې مخور او سپین ږیري استخدام شوي وي، ښاغلي نوماندان کولی شي چې د ښځینه څارونکیو

د نه موجودیت په صورت کې له نارینه طبقې څخه د سیمې سپین ږیري او مخور د څارونکیو په توګه وګماري، سربیره پر دې د دغو محلونو فهرست د ولسمشریزو ټاکنو د دویم پړاو د نوماندانو په واک کې هم ورکول کیږي.

**۳.** د پایلو د ډلبندي په ملي مرکز کې د دارالانشاء ریاست د عملیاتي مرستیال په مشرۍ د دغه ریاست د ډیپارټمنټونو له رییسانو څخه دوه کمیټې جوړیږي:

- د پایلو د ډلبندي د ملي مرکز مدیریت کمېټه چې په هغې کې د وړتیاوو د لوړولو او روزنې، د پلان او کړندودنو، حقوقو، د بهرنیو اړیکو، معلوماتي ټیکنالوژۍ او د خدماتو ښاغلي رییسان غړیتوب لري.
- د حساسو ټاکنیزو توکیو د لاسه کولو کمېټه چې په هغې کې د سیمه ییزو عملیاتو، خدماتو و عامه پوهاوي رییسان غړیتوب لري.

| **د پریکړې موافق** | **اسامی اعضا** | **د پریکړه مخالف** |
| --- | --- | --- |
| | ښاغلی ډاکتر احمد یوسف نورستانی | |
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکی | |
| | آغلې ګلالۍ اڅکزۍ | |
| | ښاغلی سریر احمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیوانی | |
| | ښاغلی محمد عزیز بختیاری | |
| | ښاغلی قاضی سلیمان حامد | |
| | آغلې لیلا احراري | |
| | آغلې شریفه زرمتی وردک | |